# اعلی حضرت او امیر اهلسنت

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

دا رساله د امیر اهلِسنت نه شوو سوالونو او د هغې په جوابونو مشتمله ده

# اعلٰی حضرت او امیرِ اهلِسنّت

**دعائے جانشینِ امیرِ اهلسُنَّت:** یا **الله** پاکه! چې څوک هم دا رِساله "اعلٰی حضرت او امیر اهلسنّت" اولولي یا ئې واوري هغه ته د خپل کامِل ولي اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په تعلیماتو باندې د عمل کولو توفیق نصیب کړې او د فیضانِ رضا نه ئې مالامال کړې او بےحسابه بخښنه ئې نصیب کړې. اٰمِیۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې د جُمعے په ورځ او شپه سَل ځله درود شریف اولوَلي **الله** پاک به د هغه سل حاجتونه پوره کوي، اویا د آخرت او دیرش د دنیا او **الله** پاک به یوه فرښته مقرره کړي چې هغه به دا درود شریف زما قبر ته داسې رارَسَوِي څنګه چې تاسو ته تحفے پیش کولے کیږي، بےشکه زما علم به زما د وصال نه پس هم دغه شان وي څنګه چې زما په ژوند کښې دے." (جمع الجوامع، 199/7، حدیث:22355)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اعلٰی حضرت تاسو کله او څنګه اوپیژندلو؟

**سوال:** (نګرانِ شورٰی د امیر اهلِسنّت په خدمت کښې عرض اوکړو:) کله چې زه ستاسو مُرید شوم

نو ما د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ نوم اول ځل ستاسو د خُلې نه واوريدو، دغه شان به لکونه اسلامي ورونړه وي چې هغوئي به ستاسو د بياناتو په ذريعه د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ نوم او تعارف اوريدلے وي- که څوک زما نه سوال اوکړي چې د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ نوم دِ څنګه اوريدلے وو نو زه به جواب ورکووم چې د امير اهلسنّت په ذريعه- که هم دغه سوال څوک ستاسو نه اوکړي نو تاسو به څه جواب ورکوئ؟

**جواب:** زه چې کله نه په ښه بد پوهه شوے يم نو د **محلّے** بادامی مسجد (کاوَگلی میٹھادر اولڈ سٹی کراچی) نه مې د درود و سلام او د نعتونو آوازونه اوريدلي دي ولے چې ماشوم ساده لوح (يعني د ساده تختئ په شان) وي په تختئ چې څه اوليکلے شي هغه پرې نقش شي نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ماشوموالي کښې مې د نعت او درود والا داسې ماحول په ذهن کښې نقش شو چې تر اوسه پورې باقي دے- که د **محلے** په جمات کښې د عاشقان رسول انتظاميه وي يا امام عاشق رسول وي نو هغه به د عِشق رسُول جامونه ډک ډک تقسيموي، او که خبره د دې برعکس وي نو اثر به هم غلط کيږي او په عقيده کښې هم خرابي راتلے شي- که په عقيده کښې مو خرابوالے راځي نو د هغې نه **مخکښې** دِ **الله** پاک په مدينه منوره کښې شهادت رانصِيب کړي- اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د اعلیٰ حضرت اَوَلَنے تعارُف

د بادامي جمات په انتظاميه کښې حاجي زکريا د کونډل ميمن وو- کونډل د هند ګُجرات يو ښار دے هلته د دعوت اسلامي مدني قافلے سره زما حاضري شوي وه- د هغه ځائے اسلامي ورونړو راته وئيلي وو چې دلته يو بدمذهبه هم نشته، څومره چې کلمه ګو خلق دي ټول عاشقان رسول دي- يو ځل په دغه بادامي جمات کښې د لمُونځ کولو نه پس ناست ووم چې حاجي زکريا مرحوم د خبرو په دوران کښې د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ نوم واخستو او مولانا احمد رضا خان رحمۃُ اللہِ علیہ ئې اووئيل، دغه وخت کښې زما عمر تقريباً نهه کاله وو خو دومره

پوهیدم چې رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ د یو ولي نوم سره وئیلے کیږي ځکه چې زمونږ د مَیمَنو په کورونو کښې د غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ او غریب نواز رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ ذِکر په کثرت سره کیږي، د هغوئي نیاز او د هغوئي نوم اخستلو سره د رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ وئیلو اِلتِزام کیږي، لهٰذا د حاجي زکریا نه مې چې د اعلٰی حضرت د نوم سره رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ واوریدلو نو زه حیران شوم چې آیا دوئي هم څوک ''ولي'' دے چې د دوئي د نوم سره ئې رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ اووئیل؟ په دې باندې راته حاجي زکریا د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ په ښو الفاظو سره تعارف اوکړو چې دا ډیر نیک بنده او ډیر لوئ ولِيُّ اللّٰه وو- دغه شان راته په اول ځل د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ تعارف اوشو-

د دې نه مخکښې به مې په شعرونو کښې ''رضا رضا '' اوریدلو خو نه به پوهیدم چې دا رضا څوک دے؟ خو بیا راته په دغه ورځ پته اولګیده چې دا رضا څه عام شاعر نه دے بلکه ډیر د لوئ شخصیت مالک دے ورځې تیریدلې او حاجي زکریا چې [زما په زړه او د ماغو کښې] د رضا د حقیقت او معرفت کوم تُخم کرلے وو هغې دننه دننه جرړې خَخَوَلې خخولې او د شپیتو کالو په موده کښې لوئیده لوئیده نن اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! ډیره اوچته او لویه ونه جوړه شوي ده- د تحدیثِ نعمت د پاره وایم چې نن د دنیا د خلقو یو شمیر د دې ونې میوه خوري او د رضا رضا نعرے وهي- بس دا د اللّٰه پاک رحمت او کرم دے- د اللّٰه پاک په بارګاه کښې مې دعا ده چې څنګه هغه په دنیا کښې د اعلٰی حضرت د فیض و برکت نه مالامال کړي یُو په آخرت کښې دِ هم مونږه د هغوئي د برکتونو نه محرومه نه کړي-

## د اعلٰی حضرت نه متاثره اوسیدلو باندې د استقامت سبب

سوال: (نګرانِ شُوریٰ عرض اوکړو:) انسان د چا نه متاثره شي خو بعضې وخت مستقل متاثره نه پاتې کیږي- ستاسو د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡہِ د ذاتِ مبارکه نه د متاثره کیدلو او بیا په هغې د استقامت څه اسباب دي؟

جواب: په اصل کښې دا د خپل خپل نصیب خبره وي اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! زما خوش نصیبي ده چې زه د

اعلٰی حضرت رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه متاثره شوم او بیا مې دا عقیدت ورځ په ورځ زیاتیدلو- ما چې کله د ځوانئ په درشل ښپه کیښوده نو د یوے لائبریرئ ممبر جوړ شوم- د هغه ځائے نه به مې د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د فتاوٰي مجموعه مثلاً احکام شریعت، عرفانِ شریعت او ملفوظات اعلٰی حضرت وغیره راخستل او لږ لږ به مې لوستل، [نِیَّت به مې وو چې] که دا ختم شو نو بیا به څه [یعني یو بل کتاب] لولم؟ دا زما جذبات وو، په دغه کتابونو کښې شرعي مسائل لوستلو ماته دومره خوند او مزه راکوله چې بس ما مسلسل لوستل، پتنګ [بادیوه] الوځول څنګه دي؟ جهینګا خوړل څنګه دي؟ دغه شان زړه راښکونکي مسائل کوم چې عموماً عوامو ته معلوم نه وي د دې لوستلو به ډیر خوند راکولو- د فتاوٰي رَضَوِیَّه خو په هغه وخت کښې شاید چې ما نوم هم نه وو اوریدلے- بهرحال **اللّٰہ** پاک ډیر کرم اوفرمائیلو چې د خپل ولي کامل، عاشقِ رسول، او عظیم عالم دین و مفتي اسلام لمَنه ئې رانصیب کړه عالِمَان او مُفتیان نور هم ډیر دي خو د احمد رضا په شان څوک هم نه دي- اوس په دې دوه څلورو صدو کښې که څوک د هغوئي په شان پیدا شوے وي نو زما معلوماتو کښې خو نشته- د دې خبرې ګواهي به هر هغه څوک ورکړي څوک چې د فتاوٰي رَضَوِیَّه په غور سره مطالعه اوکړي- هر یو علم دوست چې د چا اُردو ښه وي او څه نه څه عربي، فارسي باندې هم پوهیږي کله چې هغه فتاوٰي رَضَوِیَّه لولي نو د متاثره کیدلو نه بغیر به پاتې نه شي، ځکه چې په هغې کښې دومره جَوَر علمي تحقیق شوے دے چې د هغې ویخ به پیدا نه کړي- که یو نیوټرل کس هم د اُردو فتاوٰي تقابل اوکړي نو هغه به په هر لحاظ سره فتاوي رضویه فائق [یعني اوچت] ګڼړي-

## د هغوئي ټول صفتونه وزن دار دي

سوال: د اعلٰی حضرت ذات د صفتونو مجموعه ده، آیا تاسو ته په دغه صفتونو کښې بعضې ډیر ښکلي ښکاري؟

جواب: زه د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ صفتونو ته خپل مینځ کښې ترجیح ورکولو کښې فیصله

نه شم کولے ځکه چې زه د اعلٰی حضرت په یو صفت کښې هم د څه قسمه کمزوري نه وینم چې زه د هغې په مقابله کښې بل صِفَت ته ترجیح ورکړم- ټول صفتونه ئې وزن دار دي- د **اللّٰه** پاک په محبت کښې د هغوئي څه جواب نشته- د عشق رسول وصف ته ئې چې اوګورې نو د معراج اوچتوالي ته رسیدلے دے، د قرآن کریم په فهم کښې د هغوئي مثال نشته، د هغوئي په شان یو مفسّر نشته، د هغوئي په شان یو محدّث نشته، د هغوئي په شان یو مفتي نشته، د هغوئي په شان یو علّامه نشته، بس هر طرف ته د رضا نظارے ښکاري- بس مونږ وئیلے شو چې "جس سَمت آگئے ہیں سکّے بٹھا دیئے ہیں-" [یعني دا چې د هغوئي هر صفت اعلٰی دے]

## په اعلٰی حضرت زمونږ سترګې پټې دي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ چې د اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ لمَن نیولې ده نو وَاللّٰه، بِاللّٰه، تَاللّٰه دا څه مونږه ټوکر نه دے خوړلے بلکه مونږ د دې در د پاره ټوله دنیا په په ټوکر وهلې ده- **اللّٰه** دِ اوکړي چې د اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ لمَن زمونږ د لاسه خلاصه نه شي، د هغوئي دروازه په مضبوطۍ سره نیول دي چې "یَکْ دَرْگِیْر مُحْکَم گِیْر یعني چې یو در اونیسۍ خو مضبوط ئې اونیسۍ-" د دې تعلیم هم مونږ ته اعلٰی حضرت فرمائیلے دے [او که څوک وائي چې] دا هم ټیک دي او هغه هم ټیک دي نو دا خبره صحیح نه ده بلکه رضا چې څه فرمائیلي دي هغه ټیک دي ځکه چې رضا یوه خبره هم د قرآن و حدیث خلاف نه کوي- کله چې مونږه د هغوئي د فتاوٰي، د هغوئي د کتابونو او د هغوئي د سیرت مطالعه اوکړه نو زمونږ په ذهن کښې دا خبره راغله چې د رضا د خُلې نه هغه خبره اوځي د کومې تائید و تصدیق چې د قرآن و حدیث نه کیږي ځکه رضا پسې په پټو سترګو روان اوسۍ، که سترګې مو اُوغړوَلې نو هسې نه چې داسې مشکل درته پیښ شي چې د زړه سترګې مو بندې شي لهذا سترګې پټې کړئ او د رضا په نقشِ قدم باندې ځئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم د غوثِ پاک لـمنې ته به مو اورَسَوِي او غوثِ پاک به مو د خپل خوږ نیکۀ، رحمتِ عالمیان صلّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم قدمونو ته اورَسوِي-

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے پُھول رَحمت کے جھڑیں گے ہم اُٹھاتے جائیں گے

## په اعلٰی حضرت باندې د سترګې پټولو مطلب

سوال:"اعلٰی حضرت پسې مونږ په پټو سترګو روان یُو" د دې خبرې مزید وضاحت اوفرمائئ؟

جواب:د دې مطلب دا دے چې مونږ په اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه باندې د هیڅ قسمه تنقید نه کوو او نه مونږ ته د هغوئي بیان کړې خبره باندې څه شک پکار دے د اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِ تَعالٰیعلَیه په باره کښې سترګې پټولو کښې عافیت دے، که په دې بارګاه کښې مو سترګې اوغړولې [یعني د خپل عقل نه مو کار واخستو] نو د ټوکر خوړلو انیښنه ده۔ یاد ساتئ! مونږ اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه د **الله** پاک ولي منو، نبي ئې نه منو، د **الله** پاک بیشمیره اولیاء کرام دي، د هغوئي نه یو اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِعلَیه هم دے۔

## د اعلٰی حضرت مینه په زړه کښې څنګه پیدا کړے شي؟

که څوک دا غواړي چې د هغه په زړه کښې د اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه مینه پیدا شي نو د داسې خلقو په صحبت کښې دِ کښیني چې هغوئي هر وخت رضا رضا کوي او د دې نه علاوه دِ د اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه د کتابونو او د هغوئي د سیرت مطالعه کوي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم په رګ رګ کښې به ئې د اعلٰی حضرت رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه مینه پیدا شي۔

یاد ساتئ چې د اعلٰی حضرت مینه په زړه کښې ډیره زیاته پیدا کیدلو نه دا مراد هیڅ کله هم نه دے چې معاذالله ګنې مونږ د بل بزرګ سره مینه نه کوو، مونږ خو د فیضان اولیاء رَحِمَهُمُ اللّٰهُتَعالٰی او انبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَام قائل یو۔ ټول انبیاء کرام عَلَیْهِمُ السَّلَام، ټول صحابه کرام رَضِیَاللهُتَعالٰیعَنْهُم او اهلِ بیت هم منو او ټول اولیاء کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُتَعالٰی هم منو۔

## د اعلٰی حضرت دومره لوئ نوم ولے دے؟

سوال: صحابه کرامو رَضِیَاللهُتَعالٰیعَنْهُم، حضور غوث پاک رَحمۃُاللہِتَعالٰیعلَیه، او داتا ګنج بخش علي

هجویري رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه هم د دین کار کړے دے خو تاسو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه نوم دومره زیات ولے اخلئ؟ (د سوشل میډیا سوال)

**جواب:** د بزرګانِ دین تذکره عموماً د موقع محل په اعتبار سره کیږي اوس ولے چې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د عرس ورځې دي نو مونږ د دوئي تذکره کوو- کله چې د یوولسمې میاشت شروع شي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم یوولس شپې به مدني مذاکره وي- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! زمونږ خو د کلونو نه دا سلسله راروانه ده چې د یوولسمې میاشت شروع کیدو سره د غوث پاک رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه ذِکرِ خیر شروع کوو- د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه په تذکره کښې د حضور غوث اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه شان هم ښکاره کیږي ځکه چې اعلیٰ حضرت ته کومه عظیمُ الشّانه مرتبه حاصله شوې ده هغه ورته د غوث اعظم رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د غلامئ په وجه حاصله شوې ده-

مزرعِ چِشت و بخارا و عراق و اجمیر کون سی کِشت پہ بَرسا نہیں جھالا تیرا

(حدائقِ بخشش، ص26)

[د شعر وضاحت] یعني اے غوثِ اعظم! هغه کوم پټے دے په کوم چې ستاسو د کرم باران نه دے وریدلے، که هغه اجمیر وي او که عراق، په هر پټي باندې ستاسو د کرم باران وریدلے دے-

یقیناً اعلیٰ حضرت هم د دغه دربار ګوهرِ بار غلام او فیض یافته دے- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! مونږ د صحابه کرامو تذکره هم ډیره ډیره کوو بلکه دا نعره چې "هر صحابيِ نبي جَنَّتي جَنَّتي" هُم مونږه لګولي ده- او چې کله د دولسمې میاشت تشریف راوړي نو مونږ به د خپل آقا و مَولٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې یقیناً د الله پاک په مخلوق کښې د ټولو نه افضل هستي ده د هغوئي تذکره به کوو، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم د مرحبا ډیرې ډیرې نعرے به لګوو- (په دې موقع باندې نګرانِ شُوریٰ عرض اوکړو:) اِنۡ شَآءَ اللّٰه د اعلیٰ حضرت دا شعر به د خپلې لارې رڼړا جوړوو:

خاک ہوجائیں عَدو جَل کر مگر ہم تو رضاؔ دَم میں جب تک دَم ہے ذِکر اُن کا سُناتے جائیں گے

(حدائقِ بخشش، ص157)

## یومِ اعلیٰ حضرت ولې نمانځئ؟

سوال: تاسو د اعلیٰ حضرت د پیدائش ورځ ولے نمانځئ؟

جواب: مونږ د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِعلیہ یومِ ولادت د هغوئي د نیک نامئ په وجه نمانځو- ځکه هغوئي زمونږ نه نیکه دے او نه تره، بلکه د هغوئي ژبه هم زمونږ نه مختلفه ده او نه هغوئي سره زمونږ څه خانداني تعلق دے خو مونږ خانداني خپلوئ په دې تعلق باندې قربانوو - ځکه د هغوئي یومِ ولادت نمانځو، هسې خو خوک نن صبا د خپل نیکه، تړ نیکه یوم ولادت هم نه نمانځي بلکه معلوم هُم ورته نه وي چې د نیکه د ولادت تاریخ ئې څه وو ما ته هم د خپل نیکه تاریخِ پیدائش یا تاریخ وفات نه دے معلوم،ما خو خپل نیکه لیدلے هم نه دے، دا خو لا د نیکه خبره ده ما ته خو د پلار تاریخِ وِلادت هم معلوم نه دے ځکه چې زما په ماشوم والي کښې زما د والد صاحب وصال شوے وو نو مونږه د خپل شیخ یعني اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِعلیہ یوم ولادت نمانځو ځکه چې هغوئي لیکلي دي: والد پدرِ گِل ہے اور شیخ پدرِ دِل یعني پلار د خاورې د وجود پلار دے او شیخ یعني پیر یا دیني استاد د زړه پلار وي- (فتاویٰ رضویه، 476/21) د دې دواړو احترام په خپل خپل ځائے ضروري دے-

## د لوستلو د پاره د کومو کتابونو انتخاب اوکړو؟

سوال: کوم قسمه دینی کتابونه لوستل پکار دي؟

جواب: د هر یو کتاب لوستلو د پاره د یو ښه عالِمِ دین سره مشوره ضروري وي چې زه کوم کتاب اُولوَلم- د مَکْتَبَةُالْمَدِینه نه چاپ شوي کتابونه د ښځوانو علمائے کرامو لیکلي شوي وي یا د دعوت اسلامي د عِلمي و تحقیقي شُعبے اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة کتابونه وي د هغې مطالعه دِ اوکړے شي، بهارِ شریعت لولئ، اَلْحَمْدُلِلّٰه! مَکْتَبَةُالْمَدِینه بهار شریعت د تخریج سره د شائع کولو سعادت حاصل کړے دے، فتاوٰي رَضَوِیَّه او د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْه نور کتابونه هم مطالعه کول

پکار دي-

## د اعلیٰ حضرت وئیلو وجه

سوال: امام احمد رضا ته ”اعلیٰ حضرت“ ولې وائي؟

جواب: د اعلیٰ معنٰی ده ډیر ښه او بهترین، ولې چې زمونږ امام احمد رضا خان رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه بهترین او ډیر ښه وو ځکه هغوئي ”اعلیٰ حضرت“ وو- زمونږ علمائے کرام هغوئي ته اعلیٰ حضرت وائي نو مونږ هم ورته اعلیٰ حضرت وایو او هغوئي ډیر زیات زبردست علم والا هم وو- ځکه اعلیٰ حضرت دي-[1]

## د سیرتِ اعلیٰ حضرت ماخذ کتاب

سوال: په سیرتِ اعلیٰ حضرت باندې کوم کتاب لوستل پکار دي؟ (د رکن شُوریٰ سوال)

جواب: د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په سیرت باندې ډیر کتابونه دي، د دې ټولو ماخذ ”حیاتِ اعلیٰ حضرت“ دے کوم چې د خلیفهٔ اعلیٰ حضرت مولانا مفتي ظفرُ الدِّین بِهاري رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه تصنیف دے- دوئي د اعلیٰ حضرت رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په صُحبت کښې ډیر زیات پاتې شوي دي او په درې جلدونو کښې ئې دا کتاب لیکلے دے، د اعلیٰ حضرت په سیرت چې کوم کتابونه لیکلے کیږي د هغې مواد تقریباً د ”حیاتِ اعلیٰ حضرت“ نه اخستلے کیږي- لکه د سرکارِ غوث اعظم شیخ عبد القادر جیلاني رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په سیرت باندې لیکلي شوي کتابونه

---

1... امامِ اہلِ سنَّت مُجَدِّدِین وملَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه ته به د کور خلقو د امتیاز و تعارف په طور په خپل بول چال کښې ”اعلي حضرت“ وئیلو- نن صرف د پاک و هند خلق نه بلکه د ټولې دنیا د عاشقان رسُول په ژبو دا لفظ جاري دے او اوس خو دومره مقبول شوے دے چې څه موافق او څه مخالف! په یوه حلقه کښې هم د ”اعلي حضرت“ وئیلو بغیر د امام احمد رضا رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه د شخصیت تعبیر کول نه مکمل کیږي-
(سوانح امام احمد رضا، ص۸ بتغییر قلیل)

عموماً د ”بَهجَةُ الاَسرار“ نه ليکلے کيږي کوم چې د ډير لوئ بزرګ علامه علي بن يوسف شطنوفي رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د غوثِ پاک رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه په سيرت باندې ليکلے شوے عربي ژبه کښې ډير پخوانے کتاب دے- سيرت نګارو ته دِ هره خبره اورسي دا ضروري نه وي، بعضې خبرې په خپل طور باندې هم معلوميږي- لکه د مَكْتَبَةُالْمَدِينه رساله ”بریلی سے مدینہ“ ده، په دې رساله کښې ما د اعلٰی حضرت رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د سيرت داسې خبرې ليکلي دي کومې چې ما ته د خپلو تجرباتو نه او بزرګانو سره ملاقاتونو کښې بلاواسطه معلومې شوې دي او هغه خبرې په ”حياتِ اعلٰی حضرت“ کښې نشته- دغه شان نور هم خومره کتابونه کيدے شي په کومو کښې چې ليکونکو ته بلاواسطه معلومات حاصل شوي وي او هغوئي په کتاب کښې شامل کړي وي-

## د ”ماحِي بدعت“ مطلب

سوال: اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه ”ماحِي بدعت“ وو، د دې څه مطلب دے؟

جواب: ”ماحِي بِدعت“ د هغوئي لقب وو، د دې مطلب دے: بدعتونه ختموونکے او سنّت ژوندي کوونکے د سنتو په ځائے چې کوم بدعتونه رائج شوي وو- اعلٰی حضرت امام احمد رضا رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه هغه ختم کړي دي ځکه هغوئي ته ”ماحِي بدعت“ وئيلے کيږي-

سوال: آيا ستاسو د اعلٰی حضرت رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه مزار ته تلل شوي دي؟

جواب: اَلْحَمْدُلِلّٰه! دوه ځله راته بريلي شريف ته د حاضرئ سعادت نصيب شوے دے-

## د عُرس نمانځلو بهترينه طريقه

سوال: عُرسِ اعلی حضرت په کومه طريقه نمانځل پکار دي؟

جواب: د عُرسِ اعلٰی حضرت نمانځلو طريقه په دې انداز پکار ده چې پکښې قرآن خواني، نعت خواني اوکړے شي، د اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د سيرت مختلف ډېر پکښې بيان کړے شي، د هغوئي تقوٰي و پرهيزګاري، د هغوئي علم، د هغوئي ديني خدمات او د

هغوئي د كراماتو تذكره پكښې اوكړے شي- دغه شان د خلقو په زړونو كښې د اوليائے كرامو مينه زياتيږي- عام طور د بزرګانِ دين په عُرسُونو كښې علمائے كرام بيانونه كوي او دا كول هم پكار دي، د هغې نه پس چې كومې نيكئ وي د هغې ايصالِ ثواب كيږي، او بيا د خوراک څښاک انتظام هُم وي- په چا طعام خوړل ډير د ثواب بلكه بخښنه واجب كوونكو كارونو نه يو كار دے - (مكارم الاخلاق للطبرانی، ص370، حديث: 158) (او) د عرس كولو يوه طريقه دا هم ده چې د ايصال ثواب د پاره د عِلمِ دِين په اشاعت كښې حصه واخستلے شي- اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ټول عمر د علمِ دين خدمت كړے دے، مونږ د اعلٰی حضرت لمَن هسې نه ده نيولي بلكه د هغوئي شخصيت داسې دے چې د هغوئي د لَمنې نيولو په ذريعه ګوهرِ مراد حاصل كړے شي- زما اعلٰی حضرت، اعلٰی حضرت وو چې د هغوئي به يو سيكنډ هم نه ضائع كيدلو- د هغوئي علمِ دين سره مينه وه، هغوئي د دين د اشاعت د پاره ټول عمر وقف كړے وو لهٰذا د هغوئي د ايصال ثواب د پاره كه مونږ د علمِ دين كتابونه تقسيم كړو نو دا به د ايصال ثواب بهترينه طريقه وي-

## د اعلٰی حضرت د مصروفياتو حال

سوال: د اعلٰی حضرت د مصروفياتو حال څه وو؟

جواب: هغوئي د دين په خدمت كښې دومره مصروفه وو چې يو ځل ورته چا د خپل انجمن د سرپرستئ كولو د پاره عرض اوكړو چې تاسو زمونږ د پاره كار كوئ- ارشاد ئې اوفرمائيل: چې تاسو زما خواه ته تشريف راوړئ او زما د شپے او ورځې مُعائنه اوكړئ چې زه څه څه كارونه كووم، كه كوم يو منټ تاسو ته فارغه ښكاره شي نو زه به هغه منټ تاسو ته دركړم (فتاوٰی رضويه، 29/111110 ملخصا) يعني د هغوئي سره يو منټ هم فارغه نه وو- (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنَّت قسط 73)

سوال: آيا د اعلٰی حضرت ټول كتابونه چاپ شوي دي؟

جواب: د اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه صرف د فتاوٰي جاتو مجموعه په ديرشو جلدونو كښې شائع شوي ده حالانكه د شروع لسو كالو فتاوٰي جات خو جمع شوي هم نه دي **اللّٰه** پاک ښه پوهيږي

چې د هغوئي ځومره تصنيفات تر اوسه پورې چاپ شوي هم نه دي، غير مطبوعه پاتې شوي دي هغوئي په ليکلو کښې کامياب شو خو مونږه چاپ کولو کښې کامياب نه شو، حالانکه هغوئي يواځې ليکلو والا وو او مونږه په لکونو چاپ کوونکې يو، د دې باوجود مونږ د هغوئي نه وروستو پاتې شُو-

سوال: د اعلیٰ حضرت د شاګردانو تعداد ځومره دے؟

جواب: اعلیٰ حضرت ډير لوئ لوئ علماء تيار کړي دي، تر ننه پورې د هغوئي د شاګردانو د شاګردانو شاګرادان راروان دي، يعني داسې وئيلے شو چې په زرګاؤ علمائے کرام د هغوئي شاګردان دي او دا وخت په ټوله دنيا کښې خواره شوي دي-

## د عشقِ رسول زياتولو وظيفه

سوال: په عشقِ رسول کښې اضافه څنګه کيدے شي؟

جواب: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په عشق رسول کښې د اضافے يوه نسخه دا هم بيان کړې ده چې "د خوش آوازه قاري نه قرآن اوريدلو سره د **الله** پاک مَحَبَّت زياتيږي او خوش آوازه نعت خوان نه نعت اوريدلو سره په عشقِ رسول کښې اضافه کيږي- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص173) نعتونه هُم هغه اورئ کوم چې د شريعت مطابق وي، لکه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو داسې عاشق رسول دے چې د هغوئي د قلم نه وَتَلي هره مصرع، بلکه هر لفظ په عشق رسول کښې ډوب دے، د داسې خلقو کلام اوريدلو سره زړه کښې عشق زياتيږي، تر دې پورې چې که پرې نه پوهيږئ هُم نو بيا به مو هم زړه مطمئن وي ځکه چې د هغوئي کلام د شريعت مطابق دے، که پرې پوهيږئ او کنه، بس په شوق سره ئې اورئ- برادرِ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه، شهنشاهِ سُخن مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه، شهزادهٔ اعلیٰ حضرت، حضور مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه او د نورو ډيرو علمائے اهلسنت ليکلې شوي کلامونه اوريدلو لوستلو سره به هم اِنْ شَآءَ اللّٰه په عشق رسول کښې اضافه کيږي- (يوه مدني مذاکره

کښي ئې اوفرمائيل:) د اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه قدمونو پورې نښتي اوسئ اِنْ شَآءَاللّٰه د عشق رسول ټول منزلونه به په آسانئ سره طے کړئ۔

**سوال:** د حدائقِ بخشش په باره کښي هم څه ارشاد اوفرمائے؟

**جواب:** د اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه د نعتونو ديوان "حدائق بخشش" لوستل پکار دي۔ په اردو ښه پوهه کس چې په حدائقِ بخشش ځان پوهه کوي او زباني ئې يادوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه ډير لوئ عاشق رسول به جوړ شي۔ رښتيا خبره دا ده چې د عشق رسول په حاصلولو کښي د ماحول او صحبت ډير اثر وي۔ د صحبت په ذريعه جذبه زياتيږي۔ اوس لکه څنګه چې څوک حج له يا د مدينے منورے د حاضرئ د پاره لاړ شي او په دې سفر کښي ورته د کوم عاشقِ مدينه صحبت ملاو نه شي نو هغه ته به خوند نه نصيب کيږي لهٰذا د حَرَمين طيّبين سفر د اهلِ ذَوق او اهل علم حضراتو سره پکار دے۔ او په خپل ملک کښي هم د عاشقان رسول په صحبت کښي زيات نه زيات وخت تيرَوَل پکار دي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوت اسلامي د سنتو ډکو اجتماع ګانو او مدني مذاکرو کښي شرکت کولو سره د مدينے منورے د محبت خوند نصيب کيږي۔

## دانه خاک میں مِل کر گل گلزار ہوتا ہے

**سوال:** د اعلٰی حضرت د دې مقطع وضاحت اوفرمائے؟

رضا جو دل کو بنانا تھا جَلوہ گاہِ حبیب    تو پیارے قیدِ خُودی سے رَہیدہ ہونا تھا

(حدائقِ بخشش، ص147)

**جواب:** اقبال وائي:

مِٹادے اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہیے    کہ دانہ خاک میں مل کر گلِ گُلزار ہوتا ہے

کيدے شي چې ډاکټر اقبال د اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيه دا مقطع اسانه کړي وي ځکه چې په تاريخ کښي موجود دي چې ډاکټر اقبال د اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيه نه

متاثره وو- بهر حال اعلیٰ حضرت په دې شعر کښې فرمائي: اے رضا! که ته غواړې چې ستا په زړه کښې د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظارے راشي نو خپل ځان پوهه کړه او د خپل ځان څه ګنړلو والا سوچ نه رِیِیده یعني آزاد شه-" یعني که عاجزي او انکساري کوے نو ستا په زړه کښې به د **اللّٰه** پاک د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظارے راشي او که خپل ځان څه ګنړے "یعنی ځان لوئ ګنړے" نو هیڅ به حاصل نه کړې- دا د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ عاجزي ده هغوئي ټول د عاجزئ نمونه وو- که مونږه هم عاجزي اختیار کړو نو واقعي هغه نظارے هر ځائے شته دے! خو حقیقت دا چې په مونږ کښې عاجزي نشته-

## د یو ډیر خوښ کتاب انتخاب

سوال: که تاسو په ځنګل یا صحراء وغیره کښې حصار کړے شئ او خپل ځان سره د قرآن و حدیث نه علاوه صرف د یو کتاب کېښودلو اجازت درکړے شي نو تاسو به کوم کتاب منتخب کوئ؟

جواب: د فتاوٰي رَضَوِیَّه دیرش جلدونه که هغه محصُور کوونکے یو کتاب تسلیم کړي نو زه به ځان سره د اعلیٰ حضرت امام اهلسنّت فتاوٰي رَضَوِیَّه شریف د وړلو درخواست کووم ځکه چې په دې کښې ډیر څه دي، د عبادات، او اعتقاداتو په باره کښې ډیره رهنمائي پکښې موجود ده د دې نه علاوه په دې کښې تصوف هم دے-

(امیرِ اہلِ سنت کی کہانی انہی کی زبانی، قسط6)

## په کتابونو کښې د ترجمۀ کنزالایمان اهتمام کولو وجه

سوال:حضور! تاسو په خپلو بیاناتو او تصنیفاتو وغیره کښې د آیاتونو په ترجمه کښې د "ترجمۂ کنزُالایمان" اهتمام کوئ د دې څه وجه ده؟

جواب: ځنګه چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هره خبره د قرآن و حدیث عین مطابق وي دغه شان د هغوئي شهرۀ آفاق ترجمۀِ قرآن کنزُالایمان هم د قرآن و حدیث مطابق او په عشق و مینه

کښي ډوبه ده- په دې ترجمه کښې چې کوم صفتونه دي هغه په بله ترجمه کښي نشته، ځکه زه د ترجمهٔ قرآن کنزالایمان اهتمام کووم- قرآن کریم د **الله** پاک کلام دے د دې ترجمه کول څه آسان کار نه دے- کومو خلقو چې دا آسانه اوګڼړله او د ترجمے کولو کوشش ئې کړے دے نو هغوئي ډَغَرې هم ښے ډیرې خوړلي دي د دغه ترجمه کوونکو نظر د الفاظِ قرآني روحِ ته نه دے رسیدلے، د لفظي ترجمے کولو په سَبب دغه خلقو د مقامِ اُلُوهِیَّت (یعني د **الله** پاک د مقام او مرتبے) او د شانِ رسالت (یعني د نبي کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان و عظمت) خیال اُو نه ساتلے شو او داسې الفاظ ئې استعمال کړل کوم چې د مقامِ اُلُوهیّت او شانِ رِسالت قطعاً منافي [یعني خلاف] دي- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ترجمے طریقه دا وه چې هغوئي به ترجمه وئیله او صَدرُالشّرِیعه (مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) به لیکله بیا به چې کله صَدرُالشّریعه او نورو علمائے حاضرینو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ترجمے د تفسیرونو سره تقابل اوکړو نو حیران به پاتې شول چې د اعلیٰ حضرت دا بَرجَسته فِي البَدِیه (یعني فِي الفور ویونکي) ترجمه به د معتبرو تفسیرونو بالکل عین مطابق وه- (انوارِ کنزالایمان، ص932 ملخصاًجوہر آباد پنجاب)

## د اعلیٰ حضرت خپل پیر و مرشد سره مینه

سوال: د اعلیٰ حضرت د خپل پیر مرشد سره څنګه محبت وو؟

جواب: زما آقا اعلیٰ حضرت د خپلو بزرګانو سره څنګه عقیدت و محبت وو پخپله د ولیِ کامل کیدلو باوجود په بارګاهِ غوثیتِ مآب کښي عرض کوي:

رضا کا خاتمہ بالخیر ہو گا ۔۔۔ تری رَحمت اگر شامل ہے یا غوث

(حدائقِ بخشش، ص263)

د خپل نیکه پیر حضرت سیّد شاه آل احمد اچھے میاں مارهروي قادري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په باره کښي فرمائي:

نامہ سے رضا کے اب مِٹ جاؤ بُرے کامو ۔۔۔ دیکھو مرے پَلّہ پر وہ اچھے میاں آیا

خوش کار رضا خوش ہو سب کام بھلے ہوں گے　　وہ اچھے میاں پیارا اچھوں کا میاں آیا

(حدائقِ بخشش، ص49)

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې خپل کلام کښې د مقطع په اولنۍ مصرع کښې د عاجزۍ او انکسارۍ په وجه خپل ځان ته "بدکار" وئيلے دے، ما په دغه ځائے کښې "خوش کار" ليکلے دے او "بدکار" مې په "سب کار" باندې بدل کړے دے- اوس هم دغه مقطع زه د خپل ځان د پاره عرض کووم:

بدکار گدا خوش ہو بدکام بھلے ہوں گے　　دیکھو میرے پلّہ پر وہ احمد رضا خاں آیا

(تنگدستی اور رِزق میں بے برکتی کا سبب، ص15)

## آئيډيل ښوک جوړول پکار دي؟

**سوال:** مونږ ته خپل آئيډيل ښوک جوړول پکار دي؟

**جواب:** فی زَمانهِ سيّدی اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسنَّت، مُجَدِّدِ دِين و ملت، پروانۂ شمع رسالت، عاشِقِ ماهِ نُبُوَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْه يو داسې شخصيت دے چې هغوئي معيار جوړولو سره مونږ د دواړو جهانو کاميابي حاصلولے شو- د اعلیٰ حضرت هر قول و فعل د قرآن و سنت مطابق دے ځکه هُم هغوئي آئيډيل جوړول او د هغوئي لمَن مضبوطۍ سره نيول پکار دي او "يَکْ دَرْگِيْرمُحْکَمْ گِيْر يعني يو در اونيسۍ او مضبوطۍ سره ئې اونيسۍ" د دې مصداق جوړ شۍ- د اعلیٰ حضرت په مقابله کښې د بل شخصيت نه متاثره کيدلو باندې خپل عقيدت خرابولو نه ځان اوساتۍ-

خائفِ کبریا............................ ہیں رضا ہیں رضا
عاشقِ مصطفٰے.......................... ہیں رضا ہیں رضا
سنّتوں کے پیشوا ...................... ہیں رضا ہیں رضا

رہبر ورہنما............................ ہیں رضاہیں رضا

صوفیِ باصفا ............................ ہیں رضاہیں رضا

صاحبِ اِتّقا ............................ ہیں رضاہیں رضا

خوبروخوش ادا ............................ ہیں رضاہیں رضا

دلبرودلربا............................ ہیں رضاہیں رضا

عاشقِ اولیا............................ ہیں رضاہیں رضا

زینتِ اتقیا............................ ہیں رضاہیں رضا

عالمِ باعمل............................ ہیں رضاہیں رضا

مفتیِ بے بدل--------------------ہیں رضاہیں رضا

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کیدونکي د **دعوتِ اسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافلو** کښې عاشقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فکرِ مَدینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِن شَآءَاللہ عزوجل. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِن شَآءَاللہ عزوجل

978-969-722-124-0
01082224

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net